مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۰/۱۲/۲۸

# د ازل پریکړه

لـــه ازلــه يـې پـــيـدا کـــړل لـــــر او بـــر
بـــيا يـې واچـول پـه جـوال کـې سر پـه سـر

يــو يـــاغـــي باغــي ســاقـــي د نعمـتو نــو
بــل کـــــړيــــــبړي د دوزخ د اور پـــر ســـــر

يـو نازک لـــکه حباب غـونـدې زړه چـاودی
بـل قـايـم پـــر لـــوړ مقـــام دی لـــکه غـــــر

يـو د مـــرګ پـــر پــولــه شپـې سـبا کـوينــه
بـل د خــــد ای د داد پـــه بـاغ کـــې صـنوبـر

يو د پړانـګ پـه شــان پيدا دی سلطانـۍ تـــه
بـل تـــر بـــار لانــــدې ستميـړي لـــکه خــر

ولـی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ